# د خیرالبیان ژبپوهنیزه څېړنه

**A Lingustic Ananlisis of *"Khair-ul-Bayan***

بدرالحکیم حکیمزی*
شکیل احمد*

## Abstract:

Khairul Bayan is considered the first prose script in the history of the Pashto literature. One of its various characteristics, the book proven itself as the pioneer of linguistic approach in Pashto language. It opened the ways to linguistic study and research in Pashto. Due to this importance the book is needed to be explored in this context. This article is a brief introduction of its linguistic work, methods and techniques.

خېرالبیان د بایزید (پیر روښان) لیکلی کتاب دی. دا کتاب پانه په پانه د څېړنکارانو هنري ګوتو اړولی او څېړلی دی. پوهانو له ګڼو ځانګړتیاو لـه مخـه منلی، ستائېلی او د پښتو ادب په ماڼۍ کښې د درناوي په ځای ودرولی هم دی. بیا هم هر مخ او اړخ ئې د لازیات او ژور کار بلنه او غوښتنه کوي. د دغه ارزښت له مخه ئې دلته یواځې مونږ د ژبني جوړښت یوه جائزه اخلو.

د یاد شوي کتاب له ژبني جاج اخستنې او ارزښت پېژندنې نه وړاندې د دۀ یو څۀ ځانګړتیاوې د دې سپیناوي دپاره باید یادې او زبادې شي چې ولې ئې مقام لوړ او د پاملرنې وړ دی. خېرالبیـان چې د پښـتو نثـر وړومبی بشپړ کتـاب دی، په وړومبي وار د پښتو ادب چمـن تـه یـو شمېر وړمـن ګلونـه ډالـۍ کـوي. پـه دغو پېرزوینو کښې د تصوف نظریه، مسجع نثر، ګڼ ژبیـزه لیکنـه او پیغـامیزه وېنا یادولی شو. د پښتو د علمي کولو او پښتانۀ لیکوال نثر لیکنې تـه د هڅولـو تکل هم د خېرالبیان په کرښه کرښه کښې په ډاګه دی.

باید ومنو چې پښتو د تاریخ په اوږدو کښې کله هم علمي ژبه پاتې شـوې نـۀ ده. له بده مرغه اوس هـم ورتـه پـه ډاډ زړۀ علمـي ژبـه وئېلی نۀ شـو. خېرالبیـان دا اړتیا لرله چې د دیني او علمي ښوونو په لړ کښـې لـه عربـۍ او فارسـۍ ژبـو څخـه

* Ph.D scholar/visiting lecturer, Department of Pashto, University of Peshawar
* Lecturer, Pashto Department of Pashto, University of Peshawar

اړونده ټکي راټول کړي او د پښتو دغه نیمګړتیا په بشپړتیا واړوي. دا کار خېرالبیان ښهٔ په خلاص لاس تر سره کړو. هر څو که بیان ئې د عام لوستونکي دپاره په غابښ سپړدونکې غوټه جوړه شوه خو د راتلونکي لیکوال لپاره یوه غوره نمونه هم جوړه شوه. بیا د دغه ادبي پېر هر لیکوال د خپل نثر او نظم دپاره له عربۍ او فارسۍ نه جولۍ جولۍ توري چوڼ کړي او راوړي دي. د بېلګې په توګه د ملا ارزاني، دولت لواڼي او د اخوند کریم داد لیکنې کتلی شو. د پښتو د لیکدود د کره کولو او پوره کولو لپاره د نورو تورو د رغښت نېکنامي هم د خېرالبیان په برخه کېږي. د وخت د هجائي تورو ډلګۍ د پښتو د ځینو ځانګړو غږونو له علامتونو تشباڼې وه. دا هم د خېرالبیان په پاڼو ننداره کېږي چې د پیر روښان هنري لیکنې ځینې توري ورزیاتوي او د لیکدود دغه کمی راکموي. عبدالاکبر خان اکبر په ځای وائي چې:

"دا اول سړی ؤ چې د پښتو د رسم خط رده ئې بِنا کړې ده او د فارسۍ، عربۍ نه ئې جدا کړې ده او په پښتو کښې لیکدود ئې په نثر او نظم کښې بیان کړی دی"(1).

دا هم د خېرالبیان پېرزوینه ده چې د خپل لاسي مفغن کړو ټکو سره سره خپل جوړ کړي پښتو ټکي او اصطلاګانې د پښتو ژبې ویې پانګې ته ډالۍ کوي. په دې ښېګړه نهٔ یواځې د پښتو ویې پانګه غټوي بلکې د پښتو ژبپوهنې د بنسټ تیږه هم ودروي. دا ښېګړه ئې په دې ټکو ستائېل کېږي:

"د نورو ژبو د مروجو اصطلاحاتو په موجودګۍ کښې بایزید دا ټکي ولې استعمالول، په دې چې هغه د پښتو ژبې ادب ته یو علمي تحریک ورکول غوښتل".(2)

د خېرالبیان د ژبنۍ ننداري دپاره باید دې خواو ته ځیر شو چې دی د خپل لیک دپاره د څهٔ رنګ ټکو چوڼ کوي. د پښتو خپل اصلي ټکي پکارول څنګه ګڼي. د نورو ژبو ټکي څنګه مفغن کوي؟ کومې کومې ګرامري ځانګړتیاوې لري. د دې څېړنې په اړه غوښتنې او پوښتنې که پرله پورې شي نو داسې به شي.

املا بشپړول

د پښتو سوچه ټکي پکارول او کلاسیکي توري خوندي کول

د ژبې د پرمختګ ښکارندوئي

پردي توري مفغن کول
پښتو ټکي جوړول

## ۱. املا بشپړول:

لـه دې رازه لاژبپوهـانو دوړه څنډلې نـۀ ده چـې لـه تصـويري نـه نيـولی تـر نسـتعليق پـورې د پښـتو ليکـدود لـه کومـو کومـو پړاؤنـو راتېـر شـوی دی. د خېرالبيان څخه وړاندې د تذکرة الاولياء د يو څو پاڼو پرته کومه بله بېلګه نۀ لرو. خو دلته بايد دا هم ووېل شي چې د تذکرة الاولياء د کتابت کال نۀ دی معلوم خو دا خبره ښځي د منلو وړ ده چې خېرالبيان ځينې توري ورزيات کړي دي. د خېرالبيان په راخستو دوه څلوېښت تورو کښې ديارلس پير روښان جوړ کړي دي. په دوي کښې ځينې د عربۍ په تورو ورزيات شوي خپل لاسي توري دي چې په ايراني ژبډله کښې يواځې په پښتو پورې تړاو لري او د پښتو د ځانګړو غږونو ښکارندوئي کوي. لکه: ټ، ځ، ډ، د (ځ) ذ (ږ)، ړ، ښ، ڼ. چې ټول اتۀ دي. دغه شان له فارسۍ نه ئې شايد دا اخستنه کړې وي: پ، چ، ژ، ګ. چې ټول څلور دي. دغسې د پښتو او فارسۍ تورو په ګډه شمېر دولس جوړېږي. له دوي پرته ټول توري د عربۍ دي. لکه: ا، ب، ت، ث، ج، ح، خ، د، ذ، ر، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ع، غ، ف، ق، ک، ل، م، ن، و، ه، ی. چې شمېر ئې نهه ويشت دی. زما په اند خېرالبيان راخستي د پښتو او فارسۍ توري دولس نه بلکې ديارلس دي. که د خېرالبيان څلورم مخ په ځېر وکتل شي نو په ډاګه به شي چې د تورو په ليک لړ کښې حرف "ګ" دوه واره تر سترګو کېږي. باوري ده چې د پير روښان له هنري ګوتو يو توری دوه واره هېڅ بې هېڅه ليکل هېڅ کېدون نۀ لري. کېدی شي دا د پښتو د کوم ځانګړي غږ علامت وي چې د پير روښان له خوا ټاکل شوی وي. ليکنۍ ځاندره ئې "ګ" ته ورته وي او کاتب بهارتوئي ئې په پېژند کښې پاتې راغلی وي. او يا دا چې د کاتب قلم تېر وتی دی. که دغه حرف په سم ډول وپېژندل شي نو د پير روښان ورزيات کړي توري خپله شمېره ديارلسو ته رسوي. د خېرالبيان د نسخې متن يو ځل بيا په ځېر ځېر وکتل شي. دا حرف به خامخا کارېدلی وي. په کوم ټکي کښې به وموندل شي او پېژندګلو به ئې وشي. د دې لټون ګټه به دا وي چې يو خو به د پښتو غږ پوهې يو بل ګوټ به روښانه شي. او بله دا چې د خېرالبيان يو اړنګمن توری به وسپړل شي. او د نومړي کتاب په

حقله د پوهې لمن به نوره هم فراخه شي. (۳) او د پير روښان د پښتو ژبې په ترڅ کښې د کړي علمي چوپړ کړۀ وړۀ به نور هم برڅېره شي.

خېرالبيان چې پښتو املا ته کوم حرفونه ډالې کړي دي، هغه په درې ډوله دي: فارسي، هندي او خپل لاسي.

(ا) فارسي:

له فارسۍ څخه ئې د پ، چ، ژ، ګ توري راخستي دي. خېرالبيان ترې ځنې مفغن کړي هم دي، لکه د فارسۍ (ژ) ته ئې د (ز) او (ګ) ته ئې د (ګ) بڼه بخښلې ده.

(ب)هندي:

خېرالبيان راوړي د "ڼ" سربېره درې نور توري ټ، ډ، ړ، له هندي آريائي ژبډلې سره اړيکه لري. چې د ګاونډيتوب په وجه دغه غږونه پښتو ته راننوتي دي. په دغو کښې درې ژب اړؤنکي توري په هندي ژبو کښې خپل علامتونه لري، لکه په اردو کښې ٹ، ڈ، ڑ. خېرالبيان دغه علامتونه مفغن کړي دي. دوي ته ئې د خپل دريځ: "کښېږده په ځينې حرفونو ټکي يا غړوندي يا نوري نښانې، بې له حرفونو"i. سره سم بڼه ورکړې ده. توری ئې په توري نۀ دی اېښی او د ژبې اړولو چاره ئې توري ته د کونډې لګولو سره ښکاره کړې ده. دغه شان (ڼ) چې غبرګژبيزRetroflex توری دی، په پنجابۍ کښې (ݨ) او سندهۍ کښې (ڻ) ليکل کېږي. پښتو ته ننوتی دی او خېرالبيان ورته علامت د (ڼ) په شکل مفغن کړی دی.

(پ)خپل لاسي:

خېرالبيان پښتو ليکدود ته داسې څلور توري هم پېرزو کړي دي چې د پښتو ځانګړي غږونه ښکاره کوي. لکه: څ، ځ، ږ، ښ.

I. څ: د (ت) او (س) غبرګ آواز دی. په ځينو پښتو ګړدودونو کښې په (چ) او ځينو کښې په (س) هم ادا کېږي. د (څ) زېږځی د ژبې سر او منځ دی. له وئېلو سره د ژبې سر له غاښونو سره لګي، ځکه ورته اوريز هم وائي. په ګاونډيو ژبو کښې ئې ساری نۀ شته، ځکه ورته خېرالبيان خپل لاسي علامت (څ) غوره کوي.

II. ځ: "له غږ پوهيز پلوه له مښلې (ز) او تم (د) څخه ګډ جوړ شوی غږ دی خو د اواز پوهنې له مخې يو يواځينی اواز (فونيم) بلل کېږي"(4). د (څ) غوندې د ژبې

سر او مېنځ ئې زېږځی دی. په ځينو ګړدودونو کښې په (ز) او ځينو کښې په (چ) ادا کېږي. د پښتو ځانګړی غږ دی. خېرالبيان ورته علامت (د) غوره کوي.

III. ږ: "له آره د "ښ" غږ نه ښه ده. هغه دا چې په پاې کښې لکه "ښ" ادا کېږي. "ږ" په سوئېل لويديزه پښتو کښې مخنيتالويز غبرژبيز موښن ناغږن "Ż" دی. په سوئېل ختيزه کښې "ژ Ž" او په شمال ختيزه پښتو کښې د "ګ" غوندې وئېل کېږي. په منځنۍ يا غلجۍ پښتو کښې يو وروستی تالويز غږن مښلی بېواک "ğ" دی چې د ويلو په وخت ئې د ژبې وروستۍ برخه د تالو له وروستۍ برخې سره نښلي او په دې توګه د ساهوا بهنګ د اواز په زېږځي کښې مښنه او سولېدنه مومي"(5). دې غږ هم خپله مخبېلګه نۀ لرله. ځکه ورته خېرالبيان خپل لاسي علامت "ذ" چې په اوسنۍ ښه "ږ" ده، غوره کوي.

IV. ښ: "دا غږ د پښتو په بېلا بېلو ګړدودونو کښې په بېلا بېلو ډولونو سره وئېل کېږي. په کندهار يا سوئېل لويديزه پښتو کښې يو سايز، مختالويز غبرګژبيز، ناغږن، مښلی بېواک "Š" دی. په سوئېل لويديزه پښتو کښې "ش" وئېل کېږي. په ننګرهارۍ يا شمال ختيزه پښتو کښې د "خ" غوندې وئېل کېږي. په منځنۍ يا غلجۍ پښتو کښې يو وروستی تالويز ناغږن، مښلی، بېواک "X" دی. د وينګ پر وخت ئې د ژبې وروستۍ برخه د تالو له وروستۍ برخې سره نښلي او په دې توګه د ساهوا بهنګ د اواز په زېږځي کښې مښنه او سولېدنه مومي"(6). د ساري په نۀ درلودو ورته خېرالبيان خپل لاسي علامت "ښ" غوره کوي. د پورتني بحث د پائېلې په توګه په ډاډ وئېلی شو چې د پښتو غږ پوهې او اواز پوهې د بنسټ تيږه هم خېرالبيان ايښې ده.

۲. د پښتو سوچه ټکي پکارول:

د خېرالبيان د توريزاکر يو رنګ دا هم دی چې د پښتو سوچه او نږه ټکي د خپل بيان دپاره پکار وي. دغه ټکي پکارول که له يوې خوا د هغه ژبني جوړښت ته ښکلا ورکوي نو له بلې خوا د پښتو د سوچه ټکو د خوندي کولو شعوري تابيا ئې هم ګڼلی شو. د پښتو د سوچه تورو سمبالونه ئې دوه برخې لري. (ا) سوچه ټکي (ب) کلاسيکي ټکي.

(ا) سوچه ټکي:

دا هغه ټکي دي چې له آره د پښتو وييې پانګه ده. له زرګونو کلنو راهسې د پښتو ژبې تنسته او اډانه پرې ودانه ده. هم دغه ټکي کولی شي چې د پښتو اصلي څېره راته سمه راوپېژني. خېرالبيان په خلاص لاس دغه توري خوندي کړي دي. ځينې ترې د بېلګې په توګه رااخلو، لکه باور، استوګنه، تل د تله، غوښته، کرله، کوړل، ژوي، ادينه، نغوته، واړه، کښل، نغوړل، تښتن، ستر او داسې نور.

(ب) کلاسيکي ټکي:

خېرالبيان د پښتو د کلاسيکي دورې وړومبی نثري ليک دی او ډېرې کلاسيکي ښېګړې په خپله لمن کښې رانغاړي. يو شمېر داسې کلاسيکي توري ئې په خپل نس کښې سمبال کړي دي چې نن د نص کار ترې اخلو. د دغې سمبالونې يوه ګټه دا هم ده چې د ژبنې اوړون تګ لارې او پړاؤنه ترې په اسانه انګېرلی شو. کوم غږ په کوم بدلېږي، کوم توری کله او ولې له مېنځه ځي او معنيز بدلون څنګ پېښيږي، دا رازونه خېرالبيان راښودی شي. ځينې کلاسيکي توري ئې د نمونې په حېث مخ ته ږدو. لکه: خپسر، هر ګوره، ترو، و، وته، هوې، سخ، زار شه، بويه، پسو او داسې نور.

۳. د ژبې د پرمخ تلون ښکارندوی:

دا يو ناکړلي رښتيا دي چې د نړۍ هره ژبه له ګرانۍ نه د اسانۍ په لور يون کوي. د اوږد وخت لپاره په بيا بيا وئيلو سره ټکي سولېږي او هوارېږي. په دې عمل کښې ځينې حرفونه يو تر بله وړاندې وروسته کېږي. دغه شان يوه ژبه پرمخ تلون کوي او د وضاحت په لور ګامونه اخلي. پښتو ژبه هم د نورو غوندې دغه خاصه لري. دې عمل ته اړون (Metatheses) وئېل کېږي. چې د غږ پوهې يو توکی دی. د دې پوهې تر مخه دا کتل کېږي چې څنګه په يو توري کښې غږونه اوړي راوړي. "اوړون په دې مانا چې د يو ويی يا ګړ دننه يو اواز له بل سره خپل ځای بدل کړي. لکه روخ، ورځ، څمکه، مځکه. غږ، ږغ"(7). د خېرالبيان په کړښو کښې د دې دود درناوی ليدل کېږي. دلته اوړون په دوه ډوله تر سره شوی دی چې يو ته سيخ او بل ته پېچلی وئېلی شو.

(ا) سيخ:

خېرالبيان داسې يو شمېر توري راخوندي کړي دي چې د اوړون سمې او سيخې بېلګې دي. په دې ټکو کښې اوړون يو مخيز او نېغ په نېغه شوی دی.

لکه: مزکه، اروېدل، وړمی، وستری، دغه ټکي په پرله پسې ډول له زمکه، اوربدل، وړومبی او وروستی څخه یو تر بله د اوړون له پړاوه تېر شوي دي.

(ب) پېچلی:

خېرالبیان په دې ډول اوړون کښې ځینې ټکي له ګڼو پړاؤنو تېر کړي دي. په یو وخت ئې د خپلونې او اوړون په بیاتی ځکوښتي دي. لکه، اتام او نالت. "اتام" د طعام مفغنه بڼه ده. د طعام "ط" او "ع" په خپلو نېژدو مخرج لرونکو تورو "ت" او "الف" اوښتي دي او د "تاام" شکل ئې نیولی دی. د اوړون تر مخه ئې یو الف مخکښې شوی دی او د "اتام" په بڼه ښکاره شوی دی. دغسې "نالت" د "لعنت" مفغن او اوښتی شکل دی. په وړومبې پړاو کښې ئې "ع" په "الف" اوښتی دی او د "لانت" په رنګ مخې ته راغلی دی. بیا د اوړون تر مخه ئې غړونو یو بل ته ځای پرېښی دی او د "نالت" شکل ئې غوره کړی دی.

۴. توري مفغن کول:

د ژبپوهې یوه څېرمه څانګه غږ پوهه ده. د نوموړي علم په چوکاټ کښې د دې کار جاج اخستل کېږي چې څنګه یوه ژبه له پردو ژبو نه ټکي په پور اخلي او خپلوي ئې. هره ژبه اټکل خپله څلورمه برخه ویی پانګه په نورو ژبو څخه په راخپل کړی شوؤ ټکو سنجوي. دغه رنګ ټکي پوروئیونه یا (Adoptisms) نومېږي. خپل کړی شوی ټکی په پور اخستونکې ژبه کښې د شکل یا معنې له مخه بدلون مومي.

"که لږ و ډېر جولیز یا مانیز بدلون پکښې راشي یا په بله وینا، د پور وړې ژبې له فونولوجیکي او زغاونیزو (ګرامري) او یا هم له مانا پوهیزو آرونو (اصولو) سره اړخ لګوي نو بیا اډاپټیزمونه، لکه د پښتو په اړه "مفغن" او د فارسی په اړه (مفرس) نومول کېږي..... لکه: بینک، بانک. شمع، شمه"(8).

په پښتو ژبه کښې مفغن توري یعنې هغه غېر پښتانهٔ توري چې پښتانهٔ شوي دي، د یادونې وړ شمېر لري. لکه: خبره له خبر، بشره له بشر، مشال له مشعل او داسې نور. خېرالبیان هم پردي ټکي مفغن کول غوره ګڼي او یو شمېر پور کړي ټکي ئې خپل کړي دي. خېرالبیان دې چارې ته دوه لارې غوره کوي:

ا. جولیز بدلون

ب. توریز زیاتون

ا. جوليز بدلون:

د خېرالبيان راخپل کړي زياتره توري له جوليز بدلون سره اړه لري. د بېلګې په توګه، اتام، ادت، اورته، کيسه، نالت، نوس، مني کول او داسې نور. په ډاګه ده چې پښتو ژبه ځينې غږونه نۀ لري. لکه، ط، ظ، ع، ف او داسې نور. په پښتو کښې د داسې غږونو لپاره نېژدې مخرج لرونکي غږونه پکارېږي.

"نالوستي کسان نوموړي توري سم نۀ شي تلفظ کولی، نو له هم دې کبله هغه نېژدې مخرج لرونکو تورو باندې بدلوي. لکه چې: (ث) او (ص) په س، (ح) په خ يا الف، (ع) په الف، (ذ) او (ظ) په ز، (ط) په ت، (ف) په پ، (ق) په ک باندې بدلوي"(9).

په خېرالبيان کښې هم دغه دود پاللی شوی دی. لکه د عربۍ په ټکو (عورت) کښې (ع) په الف، په (نفس) کښې (ف) په و، په (منع) کښې (ع) په ی اوښتي دي او داسې بڼه ئې نيولې ده: اورته، نوس، مني، کيسه په (قيصه) کښې (ق) په ک او (ص) په س په پرله پسې ډول اوښتي دي.

د پښتو ژبې يوه خاصه دا هم ده چې کله په يو ټکي کښې دوه يو شان حرفونه څنګ په څنګ راشي نو ځينې وخت د تلفظ د اسانتيا دپاره ترې يو حرف لوېږي. لکه بابا ادم په بابادم، هيڅ څوک په هيڅوک او سخت تيا په سختيا تلفظ کېږي. د پښتو د لوېدن يا (Omission) دغه منلی دود خېرالبيان هم پالي. لکه په لفظ (عادت) کښې وينو چې کله (ع) په الف اوښتی دی انو دوه الفونه خوا په خوا ودرېدلي دي او دا شکل (اادت) ئې نيولی دی. خېرالبيان ترې يو الف غورځولی دی او عادت ئې په (ادت) ليکلی دی.

(ب) توريز زياتون:

په پښتو کښې د کوم پردي ټکي د مفغن کولو دپاره له دغه ټکي سره د مختاړو، وروستاړو، مصدري، فعلي او نورو ګرامري نخښو لګولو څخه کار اخستل کېږي. لکه د (نا) همغاړي کولو سره اشنا د (نااشنا)، د من لګولو سره دولت د (دولتمن)، د ول لګولو سره تقسيم د (تقسيمول)، د يږي لګولو سره ختم د (ختمېږي) او د ان لګولو سره عالم د (عالمان) په بڼه د پښتو ژبې برخه جوړېږي. خېرالبيان هم دغه کړنلاره خپلوي او له پردي ټکي سره زياتره وروستاړي، د مصدر، فعل يا ډېر کړي نخښې همغاړې کوي او دغسې پردو ټکو ته د پښتو

زړوکي وراغوستوي. لـه دې سره پـه مفغـن ټکـي کښـې د جـوليز بـدلون تـر څنګـه توريز زياتون هم تر سترګو کېږي، لکه خېرالبيان د وروستاړو (والی) او (ولـي) پـه مـل کولـو سـره پـه پرلـه پسـې ډول لـه (درسـت) څخـه درسـتوالی او لـه (پـاکيزه) نـه پاکيزولي جوړوي. دغه شان د (نی) لګولو سره له حرامي نه هرمونی، د مصدري نخښې (ول) لګولو سره له پاکيزه نه پاکيزول او له ادا نه ادا کول جوړوي. د پښتـو زياتره نرينه نومونه چې ساوالاوي او وروستی حرف ئې ښواکه وي، په وروستاړي (ان) لګولو سره د ډېرګړي شکل نيسي. لکه ځوان پـه ځوانـان او هلـک پـه هلکـان اوړي. خېرالبيان هم د ډېرګړي نخښـه پکاروي او ګڼ شمېر توري د مفغن په ځېـره کښـې د پښـتو برخـه جـوړوي، لکـه د (ان) پـه لګولـو سـره لـه ظـالم نـه ظالمـان، لـه توانګر نه توانګران، له شـېطان نـه شـېطانان، لـه کـافر نـه کـافران او لـه عـارف نـه عارفان جوړوي.

**۵.** پښتو خپل لاسي ټکي جوړول:

د خېرالبيان په پاڼو کښې ډېر شی داسې ټکي او څرګندنې شته چې ښکاري په وړومبي ځل د پښتو برخه جوړه شوې وي. دا دعـوه پـه دې دليـل بدرګـه کېږي چې د خېرالبيان نه وړاندې کومه نثري ښېلګه نۀ لرو او په نظم کښې دغه ټکـي نـۀ ليدل کېږي. دا ټکي که مخکښې وو هم خو د څرک او درک وسيله ئې نۀ لـرو. تـر څـو چـې کومـه پخـوانۍ ښېلګـه ونـۀ لـرو نـو دا بـاور روا دی چـې دا ټکـي او اصطلاحګانې هم خېرالبيان پښتو تـه ورکړې دي. د خېرالبيـان دا پېرزوئينـه دوه برخې لري.

(أ) توري
(ب) څرګندنې

(أ) توري:

ژبپوهنې جوته کړې ده چې د يوې ژبې د ويي پانګې په رغولو کښې نويزونـه (Neologism) لوی کردار لوبوي. هغه داسې چې د يـوې مخبېلګـې پـه مرسـته د ژبپوهانو له خوا دوه ټکي يو تربله په تړلو يا د يو ټکي څۀ برخه په ښېلولو سره نوي ټکي جوړېږي. لکه د (پوهه) او (تون) په تړلو (پوهنتـون) جوړ شـوی چـې مخبېلګـه ئـې مېړتـون دی. پـه خېرالبيـان کښـې راغلـي خپـل لاسـي تـوري زيـاتره مرکـب ستائينومونه دي. دغه ټکي له کوم فعل يا نـوم سـره د وروسـتاړو پـه لګولـو سـره

رغېدلي دي. لکه، لرګين، له لرګي جوړ. اسپرين، له اوسپنې جوړ. سرولين، لـه سرول يا مس جوړ، چې رېښمين له رېښمو جوړ ئې مخبېلګه ده. له نوموړو نومونو سره (ين) وروستاړی لګېدلی دی. ين خپل پيئيلی نوم له کوم جنس سره تړي او دغسې يو ستائينوم وجود مومي. خېرالبيان پوندګلي کوچيتوب، او پېوندګلي وصلت ټکي راپېژني. له دواړو سره (ګلي) وروستاړی لګېدلی دی چې مجرد صفتي نوم جوړوي. مخبېلګه ئې پېژندګلي ده. دغه شان خېرالبيان راپېژندلی يو ټکی (پرېښون) دی. ون ئې وروستاړی دی، تړون او لمسون ئې مخبېلګې دي، معنٰی ئې جوته يا پاتې شونی دی. ورکاوی، او ستروی د خېرالبيان جوړ کړي توري دي چې په پرله پسې ډول ضائع کول او لوئي معنی لري. (وی) ئې وروستاړی او مخبېلګې ئې سپکاوی او درناوی دي. بل توری دلته (پېژندوی) عارف يا پېژندونکی راغلی دی. (ندوی) ئې وروستاړی او مخبېلګه ئې ګټندوی يعنې ګټه کوونکی دی. خېرالبيان بل خپل لاسي ټکی (مزدک) راپېژني يعنې جومات يا د اجر او مزدورۍ ځای. (ک) ئې وروستاړی دی چې له ځای سره تړون ښئيي. مخبېلګې ئې بېټک، د ناستې ځای، او ګزک، د مرغو نيولو لرګينه کوډۍ يعنې د لومې اېښودو ځای، دي. خېرالبيان (ونی) وروستاړی پکاروي چې په پېوستون ئې فاعلي صفت جوړېږي. په دې لاحقه دا ټکي جوړوي:

روونی = پۍ رؤنکی، سور لونی = سورلي کوونکی، ليرونی = مسافر، مونځ کړونی = مونځ کوونکی او داسې نور. مخبېلګه ئې تلونی يعنې تلونکی دی. په دې وروستاړي زياتره اوزاري نومونه جوړېږي. لکه مچ شړونی، سرتړونی، لاسلونی او اورلړونی. خو خېرالبيان تړې ټول نومونه د فاعلي صفت جوړ کړي دي. يو بل ټکی چې خېرالبيان ئې راپېژني (ګړندر) دی او د شمار معنٰی لري. له ګڼل يعنې شمارل څخه اخستنه ده. وروستاړی ئې (در) دی چې په پښتو کښې دود نۀ دی. زما په اند دا ټکی (ګڼنه) يا (ګړنه) دی. د ګړندر په بڼه ليکل ئې د کتابت تېروتنه ګڼم.

(ب) څرګندنې:

کله چې يو ټکی ځانله يا د نورو ټکو په ګډون د اصلي معنې تر څنګه مرادي معنٰی او منځپانګه راونغاړي نو اصطلاح نومېږي.

"څرګندنې د سيمانتيزمونو په چوکاټ کښې راځي. (Semantisms) يا هغه وييونه چې تيار په ژبه کښې په ټاکلو ماناؤ کارول کېږي، خو ويې رغوونکي په کښې مانيز بدلون راولي. هم له نيولو جيزمونو څخه ګڼل کېږي. لکه، پند (نصيحت) پخوانۍ مانا ئې سفر، يا دريځ (موقف پاليسي) پخوانۍ مانا ئې ممبر"(10).

خېرالبيان پښتو ژبې ته يو شمېر خپل لاسي څرګندنې هم پېرزو کړې دي. له پخوا نه موجود ټکو ته ئې نوې معنې ټاکلې دي او د پښتو ويې پانګه ئې پرې درنه او پراخه کړې ده. خېرالبيان جوړې کړې اصطلاګانې په دوه ډوله دي. يوستوې او غبرګې.

(الف) يوستوې:

په دې څرګندنو کښې ئې يو يوستوي ټکي ته بله او مرادي معنیٰ ټاکلې ده. د بېلګې په توګه (باور) چې د اعتماد او يقين معنیٰ لري، خېرالبيان ورته د (ايمان) مفهوم ورکوي چې يو پراخه او ځانګړی مذهبي نظر دی. (پېژندګلي) چې په پښتو کښې د تعرف معنیٰ لري، خېرالبيان ورته دتصوف د څلورمې پوړۍ (معرفت) معنیٰ ټاکي. (سرکوزي) په پښتو کښې خاکسارۍ او بې جراتۍ ته وئيل کېږي، خېرالبيان ورته د اسلام له مذهبي فکر سره سم د (اطاعت) معنیٰ ورکوي. دغسې (برغو) د مېزري سورني ته وئيل کېږي. خېرالبيان ورته د حضرت اسرافيل عليه السلام د شپېلۍ معنیٰ ټاکي. د ښو کړو وړو څښتن په (ساوو) يا ساهو يادېږي، خېرالبيان ورته د (آزاد) يعنې د مريئي ضد معنیٰ ورکوي.

(ب) غبرګې:

خېرالبيان په دې ډول څرګندنو کښې له يو نه زيات خپلواکه ټکي پېوست کړي او اصطلاحي معنې ئې ورته ټاکلې دي. لکه، د (کړۀ) عمل، سره ئې (نۀ کړۀ) نۀ عمل ورجوخت کړی دی او د مذهبي اصطلاح (امرونهي) همانيزه څرګندنه (کړۀ نۀ کړۀ) ئې ترې جوړه کړې ده. دغه شان (وسترې) او (ورځ) ټکي ئې ترلي او د خپلې اصلي معنې اخري ورځ تر څنګه ئې د (قيامت) مفهوم ورټاکلی دی. دغسې (سپکه پليتي) او (درنه پليتي) ئې د غلاظت خفيف او غلاظت ثقيل همانيزې اصطلاح ګانې جوړې کړې دي. (وسترۍ ناسته) او (وړمۍ ناسته) ئې د مانځۀ د

وړومبنۍ قاعدې او دوېمې قاعدې مفهوم ته ټاکلې دي. دغه رنګ له (ذکر دم) نه (ذکر د سهې) په نامه پښتو اصطلاح رغوي.

د خېرالبيان له ژبپوهنيزې کتنې څخه دا نګېرنې او انګېرنې کېدی شي:

د خېرالبيان ليکوال پير روښان يو لوړ پوړه ژبوه دی او د پښتو ژبپوهې سرخېل دی.

د خېرالبيان ليکنه يوه شعوري هڅه ده چې پښتو علمي هم شي او په لغوي پانګه شتمنه هم.

پښتو ژبه د پراختيا او پرمختيا ښۀ وړتيا لري خو د روښان غونډې پوهه، خواخوږی او مينه وال غواړي.

***

# حوالې


(1) اکبر، عبدالاکبر خان، روښانیان د مغلو تاریکیان، اداره اشاعت سرحد، پېښور، 1966ء، مخ

(2) خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، د پښتو ادبي تحریکونه، پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټي پېښور، دوېم ځل، 1988ء، مخ79.

(3) انصاري، بایزید، خیرالبیان، مقدمه، حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، پېښور، دوېم ځل ۱۹۸۸ء، مخ ۱۳۳

(4) زیار، مجاور احمد، پوهاند، دوکتور، پښتو پښویه، دانش خپرندویه ټولنه، درېم چاپ، ۲۰۰۵ء، مخ ۲۷

(5) هم دغه اثر، مخ ۲۵

(6) هم دغه اثر، مخ ۲۴

(7) هم دغه اثر، مخ ۳۴

(8) زیار، مجاور احمد، پوهاند، دوکتور، پښتو سیندګی، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور، ۲۰۰۰ء، مخ ۹

(9) رښتین، صدیق الله، پوهاند، پښتو ګرامر، ژباړن، سید محي الدین هاشمي، یونیورسټي بک اېجنسي، خیبر بازار، پېښور، مارچ ۲۰۰۳ء، مخ ۳۰

(10) زیار، مجاور احمد، پوهاند، دوکتور، پښتو سیندګی، مخ ۸